

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

AREU

## د څېړنې له لارې د افغانانو ژوند ښه کول




www.areu.org.af

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری کاری چوکاټ

### د څېړنو شرایط

د نوموړې څېړنیزه اداری ټولې څېړنیزه پروژې باید د دغې موسسې د لید او موخو په ساحه کې او د هغو حمایه کوونکې وي. څېړنیزه پروژې په دې اساس ټاکل کیږي چې علمي خلا په ګوته کړي، پالیسي جوړونه باندې اغیزه ولري او باخبره یې کړي؛ له سکتوری او موضوعي لومړې توبونو سره برابر وي، او د لوژستیک، ټیکاو او انساني او مالي سرچینو له لحاظه د پلې کیدو وړ وي.

### د څېړنو موضوعات

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری اساسي تصویر دادی چې د لاندنیو موضوعاتو په پوهاوي او زده کړه کې د مرستې سره به د دغې اداری کار د افغانانو ژوند لا ښه کړي.

- ښوونه او روزنه
- جنسیت
- حکومت
- روغتیا
- معیشت او زیان منل
- د طبیعی منابعو اداره
- سیاسی اقتصاد او بازارونه

دغه موضوعات او په خاصه توګه په دغو موضوعاتو کې د نوموړي اداری د څېړنې تمرکز، د حالاتو او اولویتونو د بدلونونو له پاره بیا بیا کتل کیږي.

د دغې اداری د اوسنیو پروژو په هکله د معلوماتو له پاره دغه بریښنا پاڼه وګورئ www.areu.org.af.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري د منابعو مرکز

له ۲۰۰۲ کال څخه را په دې خوا د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د خپلو څېړنو د حمایې لپاره یو کتابتون جوړ کړی دی چې مواد یې خاص د افغانستان په هکله دي. په ۲۰۰۳ کال کې د جنوبی آسیا د څېړنو ټولنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ته څه ناڅه ۳۰۰۰ کتابونه او راز راز لیکنې چې د سیمې او د افغانستان په هکله وې، ورکړې. د دغه کار یو اړخ داوو چې دغه کتابونه په افغانستان کې پاتې شي تر څو څېړونکي له هغو څخه کار واخلي. دغه بیلګه چې د زیاتیدو په حال کې ده



اوسمهال ۷،۵۰۰ کتابونه او ۱۱،۰۰۰ نور مواد لري، چې په دغه شان دي؛ د افغانستان د دولت د ټولو زمانو خپرونې، د بسپنه ورکوونکو او د غیرحکومتي سازمانونو خپرونې، او د ملګرو ملتو اړونده څپرونې، موقوته خپرونې، نخشې، سي ډیان او ډي وي ډیان. د یادونی وړ ده چې د دغه منابعو مرکز منظور له نورو نړیوال کتابتونونو سره د سیالۍ څخه نده بلکه غواړي چې اړونده مواد چې په افغانستان او له افغانستان څخه بهر دي د نړیوال او ملي څېړونکو د استفادی لپاره وساتي. دغه کتابتون د دغه اداری په دفتر کې ځای پر ځای دی او د سهار له ۹ بجو څخه د مازدیګر تر ۴ بجو ، له یکشبه تر پنج شنبه پوری د څېړونکو په مخ پرانیستی وی.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشی کوڅه (د ۲مې کوڅې څنډه) نوی ښار کابل
افغانستان
areu@areu.org.af ▪ +۹۳ (۰) ۷۹۹ ۲۰۸ ۵۸۴
www.areu.org.af

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره یوه خپلواکه موسسه ده چې د پالیسي لپاره آسانتیاوی برابروي او څېړنه کوي. دغه اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د فرهنګ د پرمختګ لپاره د افغانستان تحلیلي ظرفیت د تقویې او د تحلیل او مباحثې د فرصتونو د مینځته راوړلو له پاره کار کوي. د نوموړې اداری موندیز لرلید دا دی چې د دغه کار د افغانانو ژوند ښه کړي.

د یوازنۍ څېړنیزه اداری په بڼه چې په افغانستان کې ځای پر ځای ده، دغه اداره فعالیت کوي تر څو د څېړنو موندنی یې د څېړنو په ساحو کې د بدلونونو سره مرتبط، او هغه آګاه کړی.

■

نوموړی اداره په ۲۰۰۲ کال کې د مرستندویه ټولنی له خوا په افغانستان کې تاسیس شوه، دغه اداره د بسپنه ورکوونکو، نا حکومتي سازمانونو، او څو اړخیزه موسساتو د استازو په ګډون یو مدیره هیات لري. د دغه اداری پخوانی دفتر، د څارنې ستراتیژیک واحد په ۱۹۹۸ زیږدیز کال کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د کاري چوکاټ د یوی برخې په توګه را منځته شو. نوموړی اداری د تیرو او اوسنیو څېړنو لپاره د کاناډا، دنمارک، جاپان، هالنډ، ناروی، سویټزرلنډ، سویډن او د برتانیې هیوادونو، او همدارنګه د اروپا کمیسیون، د هالند د مهاجرینو موسسه (Stichting Vluchteling)، په افغانستان کې د ملګرو ملتو نو مرستندوی هیأت (UNAMA)، د مهاجرینو عالي کمیشنرۍ (UNHCR)، د ښځو د پرمختګ لپاره د ملګرو ملتونو صندوق او نړیوال بانک، په مالي مرستو پوری تړلی ده.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره باور لری چې د افغانستان د پرمختګ او بیا رغونې لپاره یوه بحراني مساله د باوري معلوماتو او تحلیلونو نشتون دی. د دوو لسیزو څخه زیاته موده کې د سرمایو او پروګرامونو د لنډ مهاله طبیعت، سره د ګړندی کاري چاپیریال د فکر او تحلیل لپاره لږ فرصت او د څېړنو او زده ګړو لپاره تر ټولو لږ پانګه اچونه شوی ده. په نتیجه کې، باید ووایو چې پالیسي جوړوونکي او فعالینو باندی بیا بیا فشار اچول کیږي چې خپلې پریکړې د نه ازمايیل شویو فرضیتونو پر بنسټ ودروي، چې هر کله د مرستو د کیفیت د څرګنده منفی نتایجو سره مل وي. د دغه مسالی په ګوته کولو لپاره، د نوموړی اداری له موخی څخه ده چې؛

- ◄ د څېړنې او ارزونې له لاری د پوهی خلا ډکه کړی. په څېړنو باندی د سرمایه اینبودلو لږوالی د نننی افغانستان په پیژندلو او پوهاوی کې ډیره لویه خلا پریښی ده. د نوموړی څېړنیزه اداری موخه د پراخه اړونده مسایلو په هکله د څېړنو او د څېړنې او تحلیل د اسانتیاوو د برابرولو له لاری دغه خلاوی و پیژني.
- ◄ د بدلون په موخه اړیکې ټینګې کړې او له هغه دفاه وکړې. د دغه اداری موخه یوازی دا نده چې راپورونه خپاره کړي بلکه غواړي چې د افغانانو په ژوند باندی مثبتی اغیزی ولري. دغه اداره د څېړنې او مدافعي فعالیتونو پوسیله مرسته کوي څو د ستری کچې پالیسۍ او ستراتیژۍ د هغه حالاتو څخه چې په سیمه کې پیښیږي آګاه او خبر کړي.
- ◄ د څېړنو کلتور او ظرفیت پیاوړی کړي. د مفکورو کمزوری کول او د ښوونې او روزنې د سیستم له منځه تللو د څېړنو لپاره افغانستان ته محدوده سیمه ییزه ظرفیت ور پریښی دی، د نوموړی اداری له موخی څخه ده چې په افغانستان کې د تحلیل ظرفیت پیاوړی کړي او د څېړنو او زده کړی کلتور ته وده ورکړي.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری خپرونې



د نوموړی اداری خپرونې د دغه اداری د اړیکو او مدافعی د څانګې د کوښښونو اصلي فعالیت دی. د دغه اداری خپرونې د هری څېړنیزه پروژې په اوږدو کې موضوعي خپرونې او کاري پاڼی دي، او د هری څېړنیزه پروژې په نتیجه کې ترکیبی او توضیح پاڼی خپریږي. او دغه خپرونې د څېړنیزه ډلو موندنی، تحلیلونه او سپارښتنی خپروي، او د افغانستان په حکومت، د بسپنه ورکوونکو او محلي حکومتونو تر منځ، او د غیر دولتی سازمانونو په ټولنه کې د اصلی پالیسي جوړوونکو او فعالینو پریکړې اګاه او په هغو د اغیزه کولو له پاره طرح شوی دي. دغه اداره د امکان تر حده پوری خپلی خپرونې په پښتو او دري ژبو باندی ژباړی.




د څېړنیزه خپرونو سره سره دغه اداره په افغانستان کې د مرستو له پاره له الف څخه تر یا: د افغانستان لپاره مرستندوی کلنیز لارښود خپروي چې: د پتو، د مرستندویه موسسو لیست، د افغانستان حکومتي سیستم معلومات، یو لړ نخشی او ځینی غوره اسناد په بر کې لري.

چاپ شوی خپرونې د اداري په دفتر او پی ډی اف کاپیانې په دغه بریښنا پاڼه کې موجودی دي. www.areu.org.af